بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**په هند کي د ميشتو افغان مهاجرينو د استازو لخوا لخوا د افغانستان د بهرنيو چارو محترم وزارت ته**

موضوع: په هند کي د افغانستان لوی سفارت په داخل کي د اداري فساد، اختلاس او له دې ادرس څخه د افغانستان حيثيت او وقار ته د زيان رسيدو په اړه معلومات او د څيړني په موخه عرض پاڼه:

په هند کي د افغانستان لوی سفارت له کلونو راهيسي د هند په دولتي او غير دولتي بنسټونو او د هند د ولس په منځ کي يو له با اعتبارترينو او د احترام وړ ادرسونو څخه دی. د افغانستان سفارت د هر سياسي نظام او هر حکومت پر مهال خپل ډيپلوماتيک، سياسي، فرهنگي او ولسي جايگاه ساتلي او د افغانستان د خلکو له ديني، سياسي، فرهنگي، اجتماعي او اقتصادي ارزښتونو څخه يي په خورا ښه شکل استازيتوب کړی دی. د افغانستان سفارت د هند په يوه با ارزښته ډيپلوماتيکه ساحه کي پروت دی چي شاخوا ۱۴ جريبه قيمتي او با ارزښته ځمکه لري، د کار او اوسيدو له پاره په لوړ معيار جوړې شوي ودانۍ لري چي د افغانستان د برم او تاريخ استازيتوب کوي.

له بده مرغه بايد ووايو چي د ۲۰۲۱ کال د مې مياشتي راهيسي چي فريد ماموندزی په هند کي د افغانستان د سفير په توگه ټاکل شوی د دواړو هېوادونو ترمنځ تاريخي او دوستانه اړيکي تر ټولو بد حالت ته رسيدلي او خورا سخته بې باوري رامنځته شوې ده. ويزې بندې دي، سوداگر، مريضان او محصلين تگ راتگ نه شي کولی، حتی د کورنی غړي له تيرو شاوخوا ۲۱ مياشتو راهيسي سره جلا دي. له دې امله نه يوازې د دواړو هېوادونو د خلکو ترمنځ تاريخي ښه نيت زيانمن شوی بلکي عملاً په هند کي د افغان کډوالو او نورو افغانانو ټولنيزې جايگاه ته بې سابقې صدمه رسيدلې ده. له هغې مودې راهيسي چي فريد ماموندزی په هند کي د سفير په توگه ټاکل شوی ورځ تر بلې له هند سره زموږ پر تاريخي اړيکو د شک او بې باورۍ څادر خوريږي چي موږ يې عواقيب خورا بد گورو.

په هند کي ميشت افغان کډوال چي تل يې د افغانستان د خلکو د ديني، فرهنگي او ملي ارزښتونو څخه په ډير وياړ سره استازيتوب کړی د دې رسمي معلوماتي ليک او عرض پاڼي له لارې غواړي هغه مهم موارد په افغانستان کي د بهرنيو چارو له محترم وزارت سره شريک کړي چي له امله يې په هند کي د افغانستان لوی سفارت حيثيت او جايگاه له منځه تللي او هيله لري چي په دې حساس تاريخي پړاوو کي ژر تر ژره د دوه اړخيزو اړيکو د ايجاد له مخې شته ستونزو ته رسيدگي وشي او د سفارت هغه چارواکي چي په فساد، اختلاس او سوء استفاده کي لاس لري تر جدي څيړنو او پلټنو لاندې و نيول شي.

دلته هغه مهم موارد په لنډه توگه تاسو ته يادوو کوم چي د خاصي پاملرنې وړ دي:

- په هند کي د افغانستان سفير فريد ماموندزي، مالي او اداري مسوول ضياالله هاشمي او ابراهيم شکيب ايازي لخوا په غير قانوني او ټولو ملي او ډيپلوماتيکو ارزښتونو خلاف د سفارت دوه تعميرونه چي شپږ اپارتمانونه کيږي او يوه ازاده ساحه د چمن په نوم چي په حدودو نيم جريمه ځمکه راځي يوه هندي شرکت ته پرته له هر ډول قانوني پروسې، د مرکز له اجازې او هدايت پرته په اجاره ورکړي. دې قرارداد شاوخوا ۱۰ مياشت دوام وکړ وروسته په هند کي د ميشتو افغانانو له فشار سره مخ شول او له هندي شرکت سره يې بالاخره قضيه رامنځته شوه. دا مهال هندي شرکت پر سفير فريد ماموندزي او مالي اداري مسوول ضياالله هاشمي باندې د هند په محاکمو کي د دوه نيمه کروړه هندي کلدارو د جعل او فساد دعوه کړې د هندي شرکت پلان دا دی چي وروسته له څو کلونو له تېريدو څخه د هند د محاکمو د پريکړې پر اساس شاوخوا نيم جريب چمن چي ميليونونه ډالر ارزښت لري په خپل نوم کړي. په دې سره به د افغانستان ديپلوماتيک جايدادونه خپل ديپلوماتيک حيثيت له لاسه ورکړي د افغانستان

تاريخي او ملي سرمايه به د څو تنو مفسدو او خاينو مسوولينو د جفا او خيانت په وجه ضايع او خدای مه کړه د هندي سوداګرو د شومو پلانونه ښکار شي.

- د هند حکومت هره مياشت په هند کي د ميشتو کډوالو له ښونځي (سيد جمال الدين افغان ليسي) سره شاوخوا ۲۰ لکه افغانی مرسته کوي. دا مرسته په افغانستان کي د نظام له بدلون وروسته دوست هېواد هندوستان د خپل هميشني اخلاص له مخي پيل کړه. په دې مرسته کي د تعمير کرايه، د ښوونکو معاشونه، د ښونځي ورځني لګښتونه، برق بيل او نور اړوند لګښتونه شامل وو. دا مرسته په مستقيم ډول سفير فريد ماموندزي او مالي اداري مسوول ضياالله هاشمي ته ورکول کيده، موږ په وار وار هڅه وکړه چي د سفارت له مسوولينو سره د مرسته شويو پيسو او د هغي د لګښتونو په هکله حسابي وغواړو خو دوی نه يوازې دا چي حسابی ته حاضر نه شول بلکي د مهاجرينو ډير محترم استازي او يو تعداد ښوونکي يي توهين او بې قدره له سفارت څخه رخصت کړل. کله چي د دوی له فساد څخه هندي مسوولين خبر شول نو خپله مرسته يي وځنډوله په مقابل کي يي د سفارت مسوولينو په ځانګړي توګه فريد ماموندزي او ضياالله هاشمي خپلسري پريکړه وکړه چي بايد مکتب ژر تر ژره و تړل شي. خو د مکتب د ښوونکو او مهاجرينو د مشرانو او سپين ږيرو له سخت غبرګون سره مخ شول او د دوی ته د مکتب په چارو کي د لاس وهني اجازه ورنه کړل شوه. کله چي دوی پوه شول چي د مهاجرينو له سخت غبرګون سره مخ شول نو خپله پريکړه يي بدله کړه او تکتيکي چلند يي پيل کړ ژر يي ښوونکي سفارت ته وغوښتل او دوی ته يي د دورغ وعدې ورکړي او په سبا يي سفير څو تنه ديپلوماتان له ځان سره مکتب بوتلل تر څو پر وړاندې يي د لاريونونو او مزاحمتونو مخه و نيول شي. خو دا يو فريب دی او موږ غواړو تر ټولو اول د يو کال ټوله حسابي د کډوالو مشرانو او ښوونکو ته ورکړل شي.

- تير کال دوست هېواد هندوستان له افغانستان سره د ۴۰ زره ټنو غنمو مرسته وکړه، خو د غنمو دا انتقال پروسه په ډير مهارت او په پټه سره پرته له هر ډول دوطلبی له افغان شرکت سره په شريکه قرارداد کړل شوه. د غنمو د انتقال بهير چي بايد په ۱ مياشت کي تر سره شوی وای پوره ۴ مياشتي وخت واخيست او هندي چارواکي يي سخت مايوسه او نااميده کړل. ځينو سرچينو وويل چي د انتقالاتو پيسي د سفارت اکاونټونو ته تللي او بيا ويستل کيدې. او کله چي د۲۰۲۳ کال د اپريل په مياشت کي هند د خوړو نړۍوال سازمان له لارې د افغانستان له بيچاره ولس سره د غنمو د مرستي تړون کيدو سفير دې مراسمو ته دعوت نه کړای شو.

- سفير فريد ماموندزی په هند کي يو تن مشهور کميشن کار چي قيس موفق نوميږي له ځان سره لري، دا کس په هند او افغانستان کي سخت بدنامه او ډير بد شهرت لري. دې کس تر دې مهاله له لسګونو کسانو څخه په دې نوم چي د سفير په واسطه ورته د هند ويزې اخلي لسګونه زره ډالر اخيستي دي. دا مهال قيس موفق او د سفير يو تن سکرتر چي قاري ادريس باندې شهرت لري د خلکو نمبرونه بلاک کړي دي دوی د يوې ويزې په بدل کي له ۵ زره ډالرو تر ۱۸ سوه ډالرو اخيستي دي.

- د دې ترڅنګ قيس موفق، ادريس ماموندزي او ضياالله هاشمي په هند کي له ميشتو افغانانو او يو تعداد نورو افغانانو څخه چي له هند څخه بهر دي په دې بهانه چي دوی ته د افغانستان پاسپورټونه چاپ کوي لسګونه زره ډالر جمع کړي دي. د دې کسانو ممکن دقيق تعداد د ۸۰ – ۱۰۰ کسانو په شاوخوا کي وي.

- همدا اوس د زاړه ډهلي په ((خالي باولي)) په نوم کوڅه کي چي زيات شمير افغان صرافان پکي کاروبار کوي د افغانستان ويزې پلورل کيږي. د يوې ويزې اخري قيمت ۳۸ زره هندي کلداري ټاکل شوی او پورته چي هر څومره جورامد ترسره شو. دا ويزې اکثريت په هغه بيچاره افغانانو باندې پلورل کيږي چي په کلکته او اسام کي ميشت دي او هندي پاسپورټونه يي اخيستي دي. د مالوماتو له مخي شايد په تيرو څو مياشت کي تر سلو زياتي ويزې صادرې شوي وي.

- د سفارت له داخل څخه زموږ معلومات دا دي چي دوست هېواد هندوستان هر مياشت سفير فريد ماموندزي او يا هم د مالي اداري مسوول ضياالله هاشمي په لاس د سفارت د ټولو لګښتونو پيسي ورکوي چي په دې کي د ډيپلوماتانو معاشونه، ټول ورځني لګښتونه، د محلي کارمندانو معاشونه، برق بيل، اوبو بيل، د موټرونو د تيلو مصرف او نور شامل دي سره له دې چي دقيق ارقام حتی د سفارت ديپلوماتانو ته نه دي معلوم خو په اوسط ډول هره مياشت ۶۰ – ۷۰ زره ډالر سفارت ته ورکول کيږي شايد له دې هم زيات وي. خو له دې پيسو څخه يوازې د سفارت ډيپلوماتانو ته تر نيمايي کم معاشونه ورکول کيږي او باقي ۶۰ سلنه پيسي د صرافانو له لارې لندن ته انتقاليږي.

- د کډوالو د استازو د مالوماتو له مخې تر دې مهاله د سفارت د قونسلي څانگي تر ۷ زره زیاتو مهاجرینو ته پاسپورټونه تمدید کړي دي. یعني د دوی په پاسپورټونو باندې یې د تمدید سټیکرونه لګولي دي. دا سټیکرونه سفارت د جرمني په بون کې د ۳ یورو په بدل کې چاپ کوي، خو د سفیر په امر سره دا سټیکرونه په خوارو او غریبو کډوالو باندې چې د مهاجرت او غربت سختې شپې او ورځې تیروي په ۷۰ امریکایي ډالرو پلورل کیږي. مهمه دا ده چې د قونسلي دا دومره عواید چیرته ځي؟ لګښتونه خو ټول د هند د حکومت لخوا سفارت ته ورکول کیږي، باید د سفارت د عواید بانکي حساب په دقت سره و پلټل شي سفیر او د سفارت مالي او اداري مسوول باید خپل خلکو او ولس ته جواب ورکړي.
- د یو سند له مخې چې د کډوالو استازو ته په لاس ورغلی یو هندي شرکت په سفیر فرید ماموندزي او ضیاالله هاشمي له دې امله عریضه کړې چې د کوټې په نوم دیپلوماتیکو امتیازاتو کې یې چل او فریب کړی کړی دی.
- په هند کې د افغانستان لوی سفارت چې باید د خوارو او هغه مهاجرینو پوښتنه یې کړې وه چې په سخت غربت، ذلت او روحي فشارونو لاندې ژوند کوي او د دوی مرسته یې کړې وای بلکې برعکس دوی د مهاجرینو په نوم له بیلابیل خیره بنسټونو او موسسو څخه پیسي اخلي او پرته له دې چې دا پیسي او مرستې خوارو غریبو مهاجرینو ته ورسیږي په خپلو کې سره تقسیم کوي. یو کال وړاندې د سعودي عربستان پادشاه د هند له مهاجرینو سره یو لک ډالر مرسته وکړه، دوی د مهاجرینو له استازو څخه پروپوزل وغوښت خو کله چې پیسي د همدې پروپوزل له لارې د سفارت کارمندانو ته ورسیدې سفیر او د سیاسي برخې مسوول ابراهیم شکیب ایازی له مهاجرینو سره له لیدنو او ملاقاتونو څخه ډډه وکړه. همدارنګه یو بل سیهک فونډیشن هره میاشت ۱۰۰۰ کورنیو ته بیلابیل خوراکي مرسته کوي خو د سفارت نماینده ګان یې یوازې ۲۰۰ کورنو ته ویشي. په دې توګه زموږ تخمین دا دی چې شاید تر دې مهاله چې له یو کال څخه زیاته موده کیږي تر ۱۵ کروړو هندي کلدارو زیاتې پیسي حیف و میل شوي دي او په بې رحمانه توګه د مهاجرینو له نوم څخه سوء استفاده شوې او پیسي د سفیر او د ده د مفسدو همکارانو ضیاالله هاشمی، شکیب ایازی او په احتمال سره د فونډیشن یو تن همکار تر منځ ویشل شوي.
- بله موضوع په هند کې د افغان محصلینو له پاره سکالرشیپونه دي، هند هر کال افغان محصلینو ته سکالرشیپونه ورکوي، په ۲۰۲۲ کال کې هم ۹۵۰ محصلینو له پاره دا بورسونه منظور کړل شول. د دې بورسونو د ویش لړۍ شفافه نه وه. اکثریت محصلینو له دې امله شکایت درلود، د بورسونو په برخه کې هم قیس موفق د یوه کمیشنکار رول درلود ده به له مهاجرینو څخه پیسي اخیستې او وعده به یې ورسره کوله چې د دوی له پاره په پوهنتون کې داخله اخلي او بورسونه یې د افغانستان د سفارت له لارې ورته اجرا کوي. په دې ترتیب یو تعداد مهاجرینو ته د پوهنتون داخلې راغلې، خو کله چې د بورسونو مرحله را ورسیده د هند د بهرنیو چارو وزارت وویل چې د لایحې له مخې نه شي کولی چې کډوالو ته بورسونه اجرا کړي. پرته له دې چې کډوال وروڼه او خویندې مایوسه شول بلکې د هند د بهرنیو چارو وزارت د افغانستان پر سفارت باندې د بورسونو اعتماد هم له منځه ولاړ او سږکال ۲۰۲۳ کې یې په هند کې میشتو افغان محصلینو ته بورسونه تمدید نه کړل.

اوسنی حالت:

د معلوماتو له مخې سفیر فرید ماموندزی هڅه کوي چې خپل مفسد شریکان په هر ممکنه لاره چې وي له هند څخه و باسي، بلخوا هندي شرکت شخصاً د سفیر او هاشمي په خلاف خپله عریضه درج کړې ده او دوی باید د شاخوا دوه نیم کروړه هندي کلدارو حسابي تصفیه کړي همدارنګه هغه ټوټه دیپلوماتیکه تاریخي ځمکه چې دوی هندي شرکت ته په اجاره ورکړې ده دا مهال پکې سفارت د هیڅ ډول تصروف حق نه لري ځکه چې په اړه په هندي دولتي محاکمو او ادارو کې د یوې لانجمنې ساحې په توګه درج شوې ده.

په احترام

په هند کې د میشتو افغان کډوالو لخوا